# د رحمان بابا او شاه عبداللطیف بهټائي قدرمشترک

A comparative Study of Rehman Baba and Shah Abdul Latif Bhitai

Dr.Naseebullah Seemab•

**Abstract:**

In this paper the scholar has strived to present a generic account of commonalities in the message and diction of the two classical poets of Pashto and Sindhi Languages. In this connection he has studied Rahman Baba (1653–1711) the Pashto Mystic poet and has compared it with Shah Abdul Latif Bhittaui (1698-1752). Beside his mystic poetry Shah Latif has also been famous for his musical and scholastic contribution to Sindhi language, but in this paper, comparison has been carried out between the their poetic diction and mystic messages that are now stemmed in people memories and daily life sayings. The mystic wisdom takes the reader beyond symptomatic levels of understanding.

الله تعالیٰ هر انسانه پر خپل فطرت پیدا کړئ دی. دا فطرت د ټولو انسانانو مشترک دی. دې فطرتِ ته سلیم وئیل کېږي. یعني داسې فطرت چې بې عیبه وي. انسان د پیدائش پر وخت له ځانه خپله بڼه خپلوي. د ماحول او تربیت دا اثر له کبله انسان په مختلفو خانو کښې اووېشل شي دا وېش په انساني ټولنه کښې شتون په مختلفو حوالو وجود لري. د ادیانو په حواله درنګ ونسل د اعلٰی و ادنیٰ او دجغرافیې په حواله دا وېش په انساني ټولنه کښې شتون لري. دهم دې ویش له کبله په انسانانو کښې تضاد لیدل کیږي. دا تفاوت په انساني ټولنه کښې د انسان په منځ یو دبل دمرګ، دچپاون د یو وبل دغلامۍ باعث ګرځي چې انسان د خپل سلیم فطرت څخه و حیواني فطرت ته نزدې کوي او انسان خودغرضه کوي.

زمونږ په دې نړۍ کښې ډېر داسې په کروړونو انسانان شته چې په هغه کښې پرته له انسانیت بل هېڅ یو قدرمشترک نهٔ شته. نهٔ په رنګ او نسل سره ګډ وي نهٔ یې ژبه او کلتور سره یو وي او نهٔ یې جغرافیه یوه وي.

---

• Dr.Naseebullah Seemab, Associate Professor and Chairman of Pashto Department University of Baluchistan, Quetta.

ځني داسې خلګ هم په دې نړۍ کښې شتون لري چې د دومره تضاداتو باوجود يې فکر يودی پيغام يې يو وي کله په يوه مکتب کښې چې يې زده کړې کړي وي. داسې سړی په دې فکر مجبوره کوي چې دومره تضاداتو باوجود د دوئ پيغام ځله يوالي لري. هغه کوم تعلق دی چې دوئ يې سره پيوند کړي دي هغه کوم قدردی چې په دوئ کښې مشترک دی... د دې تعلق او قدر د لټون دپاره مونږ د دوو داسې شخصياتو دفکر مطالعه ستاسي مخ ته ايږدو چې يو پيغام لري. د دې دوو شخصياتو دفکر مطالعه قدر مشترک څۀ دي پر دې به خبره کوو لومړی به د دوئ پېژندګلو له تاسو سره وکوو.

لومړی کس عبدالرحمٰن دی چې پښتانۀ په احترام ورته بابا وائي. او دويم کس شاه عبداللطيف بهټائي دی چې سندهيان په احترام ورته شاه سائين وائي.

شاه عبداللطيف بهټائي دسندهه په ګرمه غيږ کښې زيږي د سندهه ميداني او ګرمه مځکه يې دخپلي ژبې او کلتور سره اشنا کوي. دخپلي مينې په شيدو يې دخواني ومقام ته رسوي. او په سندهي ژبه دخپلو جذباتو د اظهار طاقت يې په برخه کيږي.

رحمٰن بابا ته خپله خاوره او وطن د پښتو ژبه ورکوي هم دا ژبه د خپلو جذباتو او احساساتو د اظهار وسيله ګرځوي. د دې دواړو شخصياتو ترمنځ دژبو او جغرافې سره سره دعمرونه فاصله هم شتون لري. رحمٰن بابا کال ۱۶۶۳ کښې د پېښور سره نزدې په يوکلي بهادر بابا کښې د يوۀ پښتانۀ په کور کښې سترګې رڼوي او شاه سائين په حيدراباد کښې ديو سندهي په کور کښې. شاه عبداللطيف بهټائي ۱۱۰۲ کښې په موجوده ضلع حيدراباد کښې په هاله سيمه کښې زيږي". ۱

د رحمٰن بابا او شاه عبداللطيف بهټائي په عمرونو کښې تقريباً دڅلورو لسيزو فرق راوځي رحمٰن بابا او شاه عبداللطيف بهټائي څخه مشر دی. رحمن بابا چې په کوم دور کښې د حالاتو نقشه ډاکټر راج ولي شاه خټک داسې بيانوي.

"رحمٰن بابا په داسې حالاتو کښې پيدا شو چې د تاريخي عمل له کبله ژوند ته د حرص ولالچ، نفسياتي خوائشاتو، طبقاتي کشمکش، نور ترلاس لاندې ساتلو او د ازادۍ د ختمولو بنه ورکول شوې وه. هرې خواته تيارۀ غوړيدلې وه. داخلاقي پستۍ، فرقه واريت، او نسلي امتياز څخه پرته د تهذيب رنګيدل هم روان و. د کلتور پر ځائ انتشار غوړيدی د ذاتي ګټو دپاره اجتماعي ګټو تر پښو لاندې کېدې". ۲

هغه وخت دی چې د مځکې پر دې نيمه وچه (برصغير) باندې د يوې ډلې حکمراني ده چې په دې کښې دسندهه مځکه هم شامله ده. هغو ځکه به يې حالات هم داسې وولکه څنګه چې لوړبيان شو. خو د شاه عبداللطيف کورنۍ په سندهه کښې يو امتيازي حېثيت درلود په مقتدرو حلقو کښې شمارل کېدو. ځکه نو شاه سائين ملنګ او شاه سائين دپيرانو د کورنۍ شهزاده، دسندهه د پيرانو دا شهزاده مينه له کوره څخه بې کوره کوي. او له داسې حالاتو سره يې مخامخ کوي چې له کبله يې په فکري دائره کښې بدلون راځي. و شاه سائين و دې حال ته آغا، سليم داسې اشاره کوي.

ایک دن اچانک وہ گھر سے نکلے اور جوگی بن کر دشت وبیابان میں گھومتے رہے، تین سال تک وہ رنگ بھبھوت جوگیوں اور پیراگیوں کے ساتھ نگری نگری گھومے اور عام لوگوں کو قریب سے دیکھا انکی دکھوں اور محرومیوں کو محسوس کیا۔(۳)

له دې څخه داخبره جوتيږي چې د دې دواړو شاعرانو په منځ کښې يو توپير دا هم وو چې شاه سائين د خلکو دردونه له نزدې وليدل. خور رحمٰن بابا پخپله ددې محرميو او دردونو برخه ؤ، د دې حوالو ورکولو يو د بل په ژبه نه پوهېدل نه رحمٰن بابا په سندهي او نه شاه سائين په پښتو پوهېدئ. نه يې يو بل سره پېژندل او نه يې ديوه بل خيالات ويلي وو.خو دوی د شاعرۍ له مطالعې څخه داسې ښکاري لکه په يوه مکتب کښې چې يې سبق سره ويلی وي خيالات يې يو وبل ته نزدې ورته دي. ددې دواړو شاعرانو مطالعې پس دا ښکاره کيږي چې دواړه عشق په سمندر کښې غوطه زن وو. چرې چې ژبه تش د عشق په ژبه خبري کيږي او هر سړی په کښې د عشق په ژبه پوهېږي. اواز نه لري درد لري چې اوريدل کيږي نه محسوسيږي. دا درد له زړۀ څخه په زړۀ پورې کېږي. چې

کوم څوک د عشق درد نهٔ شي محسوسولئی. هغه په هر زړهٔ کښې ګوري دهغه درد احساسوي. هغه زړهٔ که دتور وي که دسپین د فرنګي وي که دافریقي د پښتون وي که د سندهي ځکه خو رحمٰن بابا وائي".

زهٔ عاشق یم سروکار مي دی له عشقه
نه خلیل نه داو دزی یم نه مهمند

او دا چې.

که چالار دعاشقۍ ده ورکه کړې
زهٔ رحمٰن دګمراهانو رهنما یم

شاه سائین که څهٔ هم له دې درد څخه ناري وهي خوله دې دردڅخه د چا ودرته نه دریږي. چا چې درد ور کړی دی له هغه څخه هم دخپل درد دوانه غواړي بلکې دعشق غوښتنه کوي. کومه خبره چې شاه سائین کوي هغه خبره رحمٰن بابا څهٔ دا رنګه کوي.

ایک تو حبیب تو طبیب درد کی تو دوا
جانی میری جان کو ہی روگ کیا لگا
توہی دی شفا صاحب اہل درد کو اب - ٦

شاه سائین که څهٔ هم له دې درد څخه ناري وهي خوله دې درد څخه د چا و درته نه دریږي چا چې درد ورکړئ دی له هغه څخه هم د خپل درد دوا نه غواړي بلکې د عشق غوښتنه کوي. کومه خبر چې شاه سائین کوي هغه خبره رحمٰن بابا څهٔ دارنګه کوي.

که څهٔ وایم نهٔ مي رسي
زهٔ مغلوب یم ته غالب
څه سیالي براري ده
د مطلوب او دطالب
درد وغم دي هومره نهٔ دی
خدای په مابانديې واجب
جدائي ده ډیره سخته
د ارواح او د قالب ٧

چا چې درد ورکړی دی رحمٰن بابا له هغه سره مینه واجب ګڼي او دا دمحبوب پر مرضي پریږدي چې هغه په عشق کښې څهٔ ورکوي. درد که دوا هم دارنګه خبره شاه سائین کوي. له هغه چاڅخه (محبوب) دمرهم توقع چا چې پرهار ورکړی دی.

کوا جھولی بیدی چاریدرد دل کا
چارہ سازولی جاو تم اپنی نشتر ساری
وہی مہر کا مرہم دینگی جوزخم نیاری
جن کی ہجر کا درد ہی دل میں وہ آئی لاج دلاری

دلته دا پوښتنه رامنځ ته کېدای شي چې د دې دواړو شاعرانو ژبه، قام او جغرافیه یوه نهٔ ده بیا د دې دواړو درد یې یو دئ. ددوی عشق، جذبات او احساسات یو رنګه څله دي؟ دا ځکه دا ځکه یوالي لري چې د دوئ محبوب یو دی دواړه شاعران دخالق او مخلوق د رشتې پیامبران دي او یو عظیم روایت پیروکاران دي. دواړه د روحاني روایت شاعران دي د هم دې لاري پر زړونو باندې پاچاهي کوي.

" دا بزرګان دریافت او روحانیت د دنیا پهلوانان دي چې په ښکاره خو خاکساره او درویشان ښکاره کیږي خو مقام یې ددې دنیا تر پاچاهانو او حکمرانانو دیر لوړ دي. دا خو هغه خلګ دي چې قدم یې پر عرش معلٰی باندې وي".

لکه رحمٰن بابا چې وائي.

په یوه قدم تر عرشه پورې رسي
مالیدلی دی رفتار د درویشانو(10)

دهم دې رفتار له لاري. دا خلګ دخلګو زړوته لار پیدا کوي ځکه چې دوئ لومړي قدم پر نفس ایښی وي. دوئ د زړونو پیوند کاري کوي دمینې تخم په کښې کړي. دوئ دخپل کلام له لاري په خلګو کښې د داسې درویشانه صفاتو پیدا کولو تمنا لري ځکه چې د دې صفاتو له کبله له انسان څخه انسان جوړیږي.

شاہ سائیں سندھ کے لوک داستانوں جو کسی بھی لسانی گروہ کی احساسات کی اپ بیتاں ہوتی ہیں. اپنی شاعری کیلئے خام مواد کے طور پر استعمال کیا. اور ان داستانوں کو تمثیلی رنگ دیکر انکے کرداروں کو خدا اور انسان کی رشتے کے حوالے سے Interpret کیا.

داخلک دا نسان او خدای ترمنځ دتعلق رشته دمضبوط کولو هڅې دعشق له لارې کوي ولې چې دا يواځينۍ هغه لار ده چې انسان وخپل حقيقي منزل ته رسولای شي. دوئ د انسان په زړهٔ کښې دخدای مينه پيدا کوي. چې خلک خو د انسان په زړهٔ کښې د خدای ويره اچوي او انسان دې ته اړ باسي چې دخدائی له ويرې څخه دهغه عبادت او اطاعت وکړي. اوخدائ ته د داسې اطاعت او عبادت ضرورت نشته چې هغه له ويرې او وام څخه کيږي. خدائ د خپل تخليق انسان سره مينه کوي او له انسان څخه غوښتنه کوي چې له ماسره مينه وکړه. زهٔ ستا جمالياتي حس هر ارمان پوره کولای شم دستا د ښائست تنده خړلولای سم. څکه رحمٰن بابا وائي.

چې مې ستا دجمال عکس دی ليدلئ په خپل ځان کښې
هم په داد ائينې په څير حيران دی زما روح (12)

هم داخبره شا سائين څهٔ په دا ډول کوي:

حوال دو اور طرح کا روگ لگی ہی ہادی ہو جو حبیب
ایسا روگ مٹا نہ پائی. کوئی او طبیب
راہ نما ہی رقیب وہی درد کا درماں ہے(13)

د رحمٰن بابا او شاه عبداللطيف بهټائي د شاعرۍ مرکزي نکته حسن او عشق دی. دا حُسن ازلي دی چې قرب يې د دوئ مطمع نظر دی. له دې کبله دوئ عشق لازم گڼي په دې چې دعشق دجذبې پرته پردې لاره سفر کول نهٔ تش دا چې مشکل دی بلکې ناممکن دی. ولې چې عشق په انسان کښې حوصله پيدا کوي خپل محبوب ته د رسېدلو حوصله د درد زغملو حوصله څکه خوشاه سائين وائي.

درماں پربت کی ریت جب سیکھی ہے تیغ سے پھر کیا ڈرنا
پریتم نے جو زخم دئے ہیں وہ عام کبھی مت کرنا
ہنس ہنس راز میں رکھتا درد کی اس دولت کو (۱۴)

پر دې لاره يعني د عشق يعني د عشق پر لار باندې په سفر سره و انسان ته د درد شتمنی په لاس ورځي داشتمنی ژوند دئ د درد د دې شتمنۍ بغيره ژوند غمجن غوندې باعث گرځي. دا کېفيت رحمٰن بابا څۀ دا رنگه بيانوي.

داستا درد به په هزار درمان ورنه کړم
دا نسته به دغه سود په زيان ورنه کړم
که څوک راکاندي دنيا و عقبٰی دواړه
عاشقي به دي په ايمن و ان ور نۀ کړم ۱۵

بل ځاي وائي.

بې له عشقه که مې عيب که مې هنر دئ
ما غوڅ کړي دي له ځانه بل پېوند

د دې مقصد دا شو چې عيب او هنر دواړه عشق دي. چې دعشق درد دومره قيمتي شي چې عقبٰی او دنيا دواړه يې ومخ ته خپل وقعت له لاسه ورکوي او هر څۀ په عشق کښې ورک شي هر څۀ عشق جوړ شي. دې ځای ته چې ورسېږي نو بيا انسان د تکميل مرحله سر کوي. دخپل ذات نفي کوي او په يو سمندر لاهو کېږي. دې خبري ته شاه سائين داسې اشاره کوي:

دولت خود ہی دیکھی خود ہی ہے محبوب
خود ہی خالق خوب خود ہے اسکا طالب (۱۷)

يا دا چې:

یہ بھی وہ اور وہ بھی وہ اصل بھی وہ اللہ بھی وہ
پریتم وہ اور جان بھی وہ دشمن اور اپناہ بھی وہ (۱۸)

دا هغه منزل دی چې دانسان د ذات تکميل په کېږي. د ذات دا تکميل په اصل کښې تکميل انسانيت دی. ځکه چې پر دې مقام تضادات ختم شي. انسان په حيثيت دانسان ليدل کېږي رنگ ونسل، ژبه، کلتور ټول په يوه رنگ ورنگېږي. درحمٰن بابا او شاه عبداللطيف بهټائي رنگه خلک د يوې قبيلې او يوه درس ورکوي. هغه دا چې

انسان يو دی. انسان هسي ځان د نابينائي وکندي ته اچولی دی او له يو بل سره لاس وګريوان دی. د شاه عبداللطيف بهټائي د فکر په حواله ډاکټر فيمن عبدالمجيد سندهي ليکي.

تصوف کے حوالے سے شاہ صاحب ہمیں سمجھاتے ہیں کہ کائنات کی کثرت نے اور تمام رنگینیوں میں وحدت ہی وحدت کارفرماہی ہوتی ہیں.

لاکھ دروازوں کا قصر پرُساں
اور ہر جانب کروڑوں کھڑکیاں
جس طرح بھی دیکھتا ہوں سر بہ سر
اس طرح آتا ہے وہ مالک نظر

اسی حقیقت کو مدنظر رکھ کر وہ ہمیں سمجارہے ہیں کہ کیوں اندھی بن آپس میں دست و گریباں ہورہی ہو تم تو اپس میں ایک ہو دوی تم میں ہے ہی نہیں یہ تمہاری جہالت ہے جو ایک دوسرے کو الگ سمجھ کر اپنے آپ کو نقصان پہنچارہے ہی. اسی حوالے سے شاہ سائیں فرماتے ہیں.

اے دوست کمان میں تیر ڈال کر مجھے نشانہ بنامجھ میں تو تو ہے. ایسا نہ ہو کہ تیرا تیر تجھے لگ جائے.

د هم دې رندې ورځې او جهالت سره رحمٰن بابا په جنګ دی، دې خبرې محس احسان داسې اشاره کړې ده.

رحمان بابا اسی مسلک کی نمائندہ شاعر ہے. انکے عشق سے سرشار کیفیات میں کائیناتی ہم آہنگی کا احساس شامل ہے انکا بنیادی فکری اور جذباتی عرفان ذات باری تعالیٰ اور انسان سے محبت، ساری کائنات سے ماخوذ ہے. انکا پیغام محبت ہے تمام بنی نوع انسان سے محبت ساری کائینات سے محبت ہے وہ اگر نفرت کرتا ہے تو ظلم سے، استحصال سے، جبر و تشدد اور بے انصافی سے اسکی متصوفیانہ شاعری کی بنیاد بنتی ہیں.(۲۰)

د رحمٰن بابا او شاه عبداللطيف بهټائي په شاعرۍ کښې دعشق داپيغام دئ چې د دوئ شاعري ته ابدی ژوند بخښلي دی او يو والي يې ورکړي دی. د دوئ شاعري پرونډ هم دخپل عصر شاعري وه نن هم ده او سبا به هم وي. څۀ رنګه چې د شاه سائين شعر د هر سندهي نر او ښځې په ياد زده دی دا رنګه د رحمٰن بابا شاعري په پښتو کښې قبوليت لري.دا ځکه چې دوئ دواړه شاعران دي. په دې شاعرۍ کښې دا قوت شته چې دا تقسيم د رنګ و نسل څخه بالا يو افاقي پيغام

لـري. دا پیغـام افـاقي ځکـه دی چـې دعشـق دردپکښــې دی. او دا درد یــو داسـې دشـته ده چـې انسـان لـه انسـان سـره کائنـات سـره او پـه پـات کښــې له خدائ سره تړي.

***

# حوالې

(1) آغا، سلیم، رساله شاه عبداللطیف بهټائی. (شاه عبداللطیف ثقافتي مرکز بهټ شاه، 2000، مخ ۷

(2) ختک، راج ولي ډاکټر، رحمٰن باباکا شعورزیست، پښتون لسان الغیب رحمان بابا، مؤلفین، پروفیسر محسن احسان محمد جاوید خلیل، پشتو اکېډمی پشاور ۲۰۰۰ء مخ۶۵

(3) آغا، سلیم. ر ساله شاه عبداللطیف ثقافتي مرکز بهټ شاه2000ء مخ ۹

(4) در حمٰن بابا دیوان. مدون عبدالروف بېنوا، پښتو ټولنه کابل

(5) ایضاً مخ۷۶

(6) آغا، سلیم، مخ۵۵

(7) د رحمٰن بابا دیوان. مدون عبدالروف بینوا ( پښتو ټولنه کابل ۱۹۴۷ء مخ ۳۳

(8) آغا، سلیم، مخ ۵۹

(9) طاهر نواز، پروفیسر، رحمٰن بابا او اعجاز عشق، پښتون لسان الغیب ( پشتو اکېډمی پشور ۲۰۰۰ء ) مخ ۵۶.۵۷

(10) درحمٰن بابا دیوان، مدون عبدالروف بینوا ( پښتو ټولنه کابل ۱۹۴۷ء) مخ۸۷

(11) آغا، سلیم، شاه عبداللطیف بهټائي کښې شاعري. ادبي تناظر، مرتب خالد اقبال یاسر ( اکاډمي ادبیات اسلام اباد۱۹۸۵ء ) مخ ۶۷

(12) درحمٰن بابا دیوان، مدون عبدالروف بینوا، ( پښتو ټولنه کابل۱۹۴۷ء ) مخ ۳۷

(13) آغا، سلیم، رساله شاه عبداللطیف بهټائي، مخ۴۸

(14) ایضاً مخ ۴۲

(15) درحمٰن بابا دیوان، مدون عبدالروف بینوا (پښتو ټولنه کابل۱۹۴۷ء) مخ ۷۷
(16) ایضاً مخ ۳۹
(17) آغا، سلیم، رساله شاه عبداللطیف بهټائي، مخ ۳۹
(18) ایضاً، مخ ۳۹
(19) سندهي، عبدالمجید ډاکټر، سندهي ادب اور ثقافت مین صوفیا کا کردار. ادبي تناظر.مرتب جاوید اقبال یاسر، (اکاډمي ادبیات اسلام اباد ۱۹۸۵ء) مخ۴۳
(20) محسن احسان، عرض مؤلف، پشتون لسان الغیب رحمٰن بابا، مخ ۹